Senatsverwaltung für Bildung, Jugend und Familie

www.berlin.de/sen/bjf

email briefkasten@senbjf.berlin.de
Last updated د 2020 اګست

# د زده کړې او ګډون د مالی کمک بسته
## (Bildungs- und Teilhabepaket)

**د هغو ماشومانو د والدینو لپاره مالومات چې په ورځنۍ پاملرنه یا د ماشومانو د ساتونکو په وسیله یې پاملرنه کیږي**

ګرانو والدینو،

کله چې خبره د زده کړې او په ټولنه کې د ګډون په اړه وي، ټول ماشومان باید مساویانه فرصتونه ولري. دا باید د کورنۍ پر عاید پورې تړلی نه وي. له دې امله، د زده کړې او ګډون د بستې (BuT) له لوري ملاتړ وړاندې کیږي.

**د زده کړې او ګډون د بستې لپاره څوک د شرایطو وړ دي؟**

ماشومان او ځوان اشخاص چې دوی پخپله یا والدین یې لاندې کمکونه ترلاسه کوي:

- د بېکارۍ معاش یا پیسی II (Arbeitslosengeld II)
- د عاید ملاتړ(Sozialgeld)
- ټولنیز فواید(Sozialhilfe)
- د ماشومانو معاش (Kinderzuschlag)
- د کور فواید یا (Wohngeld)
- د کډوالۍ د غوښتونکو د قانون تر لاندې فواید..(Leistungen nach dem Asylbewerberleistungsgesetz)
- ان که تاسو هېڅ یو پورتني فواید نه ترلاسه کوئ، څکه چې د مصرف وړ عاید سطحه مو لږ اوچته ده، د زده کړې او ګډون فوایدو ته بیا هم انفرادي غوښتلیک وړاندې کېدای شي. په داسې حالت کې، د دندو مرکز مراجعه کولو لومړۍ سرچینه ده.

**د زده کړې او ګډون فواید کوم فواید دي؟**

- په کودکستان یا د ورځنۍ پاملرنې په مرکز کې د ماسپښین ډوډۍ (چې اوسمهال په میاشت کې 23 یورو کېږي) رانغاړل کېږي، په دې وروستیو کې، د 2019 د اګست په 1 نېټه باندې د 20 یورو میاشتنۍ پیسی حذف شوی تر څو په ماسپښین ډوډۍ کې ګډون وړیا شي.
- د کودکستان یا ماشوم ساتونکو سره په یوه ورځنیو سفرونو کې د سفر لګښتونه رانغاړل کېږي.
- د کودکستان یا ماشوم ساتونکو سره د څو ورځو سفر لګښتونه رانغاړل کېږي.
- د ټولنیز ژوند په ټولنیزو او فرهنګي مناسبتونو د ګډون لګښت رانغاړل کېږي.

**زما ماشوم څه ډول کولی شي تر څو د ماسپښین په ډوډۍ او له ورځنۍ پاملرنې او یا کودکستان سره په یو ورځني وړیا سفر کې ګډون وکړي؟**

- که تاسو له پورته ذکر شوو فوایدو څخه یې یو هم ترلاسه کوئ، تاسو د خپل ماشوم لپاره د زده کړو د بستې فواید ترلاسه کولی شئ.
- د لیکل شوي غوښتلیک د وړاندې کولو لپاره اړتیا نشته. ببل غوښتلیک یواځې د کور د فوایدو د دفتر لپاره کوم دفتر څخه چې تاسو د کور پیسی تر لاسه کوی باید وړاندی کړی. (Wohngeldstelle).

- دا به کافي وي چې یواځې د خپل ماشوم اړین اسناد وړاندې کړئ. اړین اسناد عبارت دی (له ورځنۍ پاملرنې یا ماشوم ساتونکو سره تړون یا د ورځنۍ پاملرنې د ماسپښین د ډوډۍ رسید).
- دا امر د فوایدو په دفتر کې ترسره کېږي، چېرې چې تاسو پخوا، د خپلو فوایدو لپاره غوښتلیک وړاندې کړی وو. دا دفتر د دندو مرکز (Jobcenter)، د ټولنیزې هوساینې دفتر (Sozialamt)، د کډوالو د موضوعاتو اړوند ایالت دفتر (Landesamt für Flüchtlingsangelegenheiten) او یا د کور د فوایدو دفتر (Wohngeldstelle) کیدای شی (د کور د فوایدو دفتر همداراز د ماشومانو د اړونده ډلې د نقدي مرستو مسؤلیت هم لري.)
- تاسو به وروسته **berlinpass-BuT** ترلاسه کړئ.
- **berlinpass-BuT** باید په فوري توګه ستاسو د ماشوم استاد په کودکستان کې ورکړل شي، تاسو به وروسته له هغې مجبور نه یاست تر څو د نقدي مرستې د مشخصې مودې په ترڅ کې، په کودکستان کې د خپل ماشوم د ماسپښین ډوډۍ ته د میاشتې 23 یورو تادیه کړئ. ستاسو ماشوم به وروسته له هغې د ماسپښین وړیا ډوډۍ ترلاسه کړي. د دې مودې په ترڅ کې، ستاسو ماشوم همداراز کولی شي د ورځنۍ پاملرنې په یوه ورځنیو سفرونو کې په وړیا توګه ګډون وکړي.
- د ماشوم ساتونکو په صورت کې، **berlinpass-BuT** باید ستاسو د ځوانانو د هوساینې دفتر (Jugendamt). ته تسلیم کړل شي. د ماسپښین د ډوډۍ لپاره د والدینو سهمیه همدلته مستثنی کېږي. که د ورځنۍ پاملرنې په سفرونو کې پر تاسو باندې لګښت راځي، تاسو کولی شئ داسې ثبوت د خپلو فوایدو دفتر ته وړاندې کړئ چې د ماشوم ساتونکي په وسیله تایید شوی وي او وروسته به تاسو همغه پیسې بېرته ترلاسه کړئ.
- لطفا مطمین اووسی چې berlinpass-BuT مو، مخکې له دې چې وخت یې تېر شي، تسلیم کړئ.
- سربېره پر هغو فوایدو باندې چې د زده کړې په بسته کې رانغاړل شوي، berlinpass-BuT په فرهنګي بنسټونو، سپورټي او تفریحي فعالیتونو کې د شاملېدو لپاره، لکه "نورمال" berlinpass-BuT غوندې، تخفیفونه وړاندې کوي. که تاسو غواړئ د دې لپاره برلینپاس - بټ وکاروئ ، نو ستاسو د ماشوم د پاسپورت د اندازه عکس باید د 3.5 سانتي متره x 4.5 سانتي په شکل سره ستاسو خدماتي مرکز ته وسپارل شي. مالومات، وړاندیزونه او تخفیفونه په لاندې پاڼه کې موندلی شئ:
  http://www.berlin.de/sen/soziales/soziale-sicherung/berlinpass/.

**زما ماشوم څه ډول کولی شي د ورځنۍ پاملرنې یا ماشوم ساتونکو په څو ورځنیو سفرونو کې په وړیا توګه ګډون وکړي؟**

- د ورځنۍ پاملرنې یا ماشوم ساتونکو له لوري د څو ورځنیو سفرونو لګښتونه د فوایدو د مرکز له لوري، چې تاسو د خپلو فوایدو لپاره ورته غوښتنلیک ورکړی وو، ورکول کېږي. د دې لپاره یوه جلا فورمه موجوده ده چې پکې، د نرسرۍ/ماشوم د پاملرنې اړوند شخص هم د اړتیا وړ مالومات لیکي.

**که زما ماشوم وغواړي چې په بېکاره وخت کې د ټولنې په فعالیتونو کې ګډون وکړي، زه څه ډول مرستې ورته غوښتلی شم؟**

- ماشومان او ځوان اشخاص (له 18 کلونو څخه ښکته عمر لرونکي) کولی شي همداراز د ټولنیز ژوند په ټولنیزو او فرهنګي فعالیتونو کې (لکه سپورټ، لوبې، فرهنګي مناسبتونه، په جوړو شوو تفریحي فعالیتونو کې ګډون) د ګډون په موخه فواید ترلاسه کړي. دوی باید فرصت ولري تر څو خپل تفریحي وخت په یوه معني لرونکي توګه منظم کړي. دا کېدای شي د بېلګې په توګه روزنیز سپورټي کلبونه وي، د موسیقۍ د الاتو د غږولو زده کول، د ابتدایي موسیقۍ زده کړه یا د تفریحي ودانیو او ځوانانو د ټولنو په تفریحي فعالیتونو کې ګډون کول راونغاړي. د لامبو کورسونه او په موزیمونو کې فعالیتونه هم امکان لری. په انفرادي قضیو کې به کودکستان هم کورسونه په وړیا توګه جوړ کړي.
- د بېلګې په توګه، د کلب د غړیتوب د فیس او د کورس د فیس لګښت کېدای شي حساب شي. د 2019 د اګست له 1 نېټې څخه وروسته به د فوایدو کچه په میاشت کې 15 یورو وي، پرته له دې چې اصلي لګښتونه په پام کې ونیول شي. تاسو یواځې باید د وړاندیز یو ثبوت (لکه له سپورټي کلب سره د غړیتوب تړون، د کورس د فیس لپاره رسید) د فوایدو دفتر ته وړاندې کړئ. پیسې به وروسته ستاسو بانکي حساب ته په مستقیمه توګه ولیږدول شي.
- د اړینو وسایلو د اخیستلو او یا د کرایې د فیس د تادیې او د سفر د لګښتونو په برخه کې هم نقدي مرستې موجودې دي.

**لا ډېر مالومات او فورمې** په انلاين توګه په دې پاڼه کې د لاسرسي وړ دي
http://www.berlin.de/sen/bjf/bildungspaket/